# د پښتو ژبې او ادب په پرمخ تګ کښې د پښتو اِکېډمی کوئټې کردار

# ROLE OF PASHTO ACADEMY QUETTA IN THE PROMOTION OF PASHTO LANGUAGE & LITERATURE

پروفیسر ډاکټر نصرالله جان وزیر*
ډاکټر دانش بېټنی**
صاحبزاده باز محمد***

**Abstract**: Academies, Centers and Departments play pivotal role in the promotion of a language and its literature. In this connection, Pashto Academy Quetta also rendered invaluable services for promotion and augmentation of Pashto language and literature since its establishments till date.

The authors of the paper strived to highlight the works and publications of Pashto Academy Quetta since its establishment till now. It focuses the scholastic and literary struggle of the scholars of South Pashtoon Khwa.

The writers critically analyzed publications made through the said Academy and highlighted its merits and demerits.

دتاریخ په اوږدو کښې پښتانهٔ د ځو پېړیو را هیسې په جغرافیائي توګه په بیله بیلو منطقو کښې ځله پاشل شوي، چې له کبله ئې دوئ د جغرافیائي تقسیم سربېره په نفسیاتي توګه هم له وحدت څخه محروم یا دیو واحدملت په ځای په ځو ډوله جلا جلا دائرو کښې له غیر نېژادي اقوامو سره یو رنګه مخلوط اویا محکوم ژوندتېرول په ځان منلی اوهم په دغه دود ورسره خوشحاله دي. دغه د پښتنو هغه پرګنې دي چې په افغانستان کښې وېرېا او د پاکستان په شمال کښې واضح اکثریت نفوس لري مګر یوڅهٔ قدر ئې بیا هغه دي چې د اېران په شرقي ځنډو کښې میشته دي. یعني پرته له افغانستان څخه د دې یوه لویه ټوټه په پاکستان کښې او یوه څهٔ وَړه برخه

* Professor at the Department of Pashto, University of Balochistan, Quetta.

** Folklore Specialist, Pashto Academy Peshawar, Khyber Pashtoon Khwa.
** Lecturer, Department of Islmic Studies, University of Balochistan, Quetta.

ئې پۀ ایران پورې نښلول شوې ده. بیا دغه ټوټې یو تربله داسې ځله پاشل شوې دي چې یو تربله ئې د تگ راتگ یا د نقل او حرکت هېڅ ذرائع نۀ دي ورته پرېښول شوې چې له کبله ئې خپل منځي ژبني، قومي او ثقافتي اړیکې د نورو قومونو پۀ نسبت څۀ قدر شنډې او لادرکه دي. یوائې دا نۀ بلکې د ملي وحدت او د قومي شعور اِحساس او مفکوره ئې هم له لاسه ورکړې ده.

د قومي شعور او ملي اِحساس له ورك کېدو علاوه بل کوم لوئ زیان چې یادېدلی شي هغه د پښتو ژبې او ادب د پرمختیا شنډتیا ده چې له هره خوا واقع شوې ده. دغه عمل که څۀ هم پۀ درسته پښتونخوا کښې یو رنگه محسوس شوی، مگر د کابل او پېښور پۀ نسبت پۀ سُهیلي پښتونخوا کښې دا بیا بېخي ډېرد سُست روي ښکار شوی. یقنیاً چې د دې تر شا عوامل باندیني دي. مگرد شلمې پېړۍ له نیمائي را پۀ دې خوا هغه څۀ چې د دې سیمې باشعوره او بااحساسه طبقې د پښتو ژبې او ادب پرمخ تیا د پاره کړي، پۀ حقیقت کښې د پښتو ادبیاتو پۀ تاریخ کښې یو ځلنده باب یادېدلی شي. پۀ دا خاطردلته پۀ دې مقاله کښې به پۀ هغه څۀ باندې بحث کولې شي، کوم چې د پښتو ژبې او ادب د ودې او پرمختیا د پاره پۀ دا سیمه د ژبې او ادب مینانوکړې دي. چون کې ددغه ډول هڅو یوغوټ صورت Solid Shape دلته د پښتو اَکېډمۍ کوئټې پۀ شکل کښې وجود موندلی، ځکه نو پۀ دا مقاله کښې به یوائې د دې اَکېډمۍ د اِبتدا او اِرتقا، د اِکېډمۍ علمي اوادبي کارکردگي او هغه هڅې چې د اِکېډمۍ له خوا ترسره شوې دي پۀ هکله به مُدلل تحقیقي څېړنۀ وړاندې کولې شي.خود څېړنې د اسانتیا پۀ خاطر دغه مقاله پۀ درې برخو وېشل شوې ده، چې لومړۍ برخه کښې به د اِکېډمۍ د جوړښت، پس منظر او اِنتظامي معمالاتو پۀ هکله بحث وي، دویمه برخه چې تر ټولو مُهم او د موضوع پۀ مطابق بنیادي ده، کښې به د اِکېډمۍ د مطبوعاتوپۀ اړه څېړنې وړاندې کولې شي. د مقالې پۀ دریمه برخه کښې به د اِکېډمۍ د کار کردگۍ پۀ باب یوه مجموعي جائزه، نتائج او یو څه وړاندیزونه شامل وي.

**پس منظر، اِرتقا او اِبتدا**: پۀ ۱۴ اگست ۱۹۴۷ء د هند پرېکړې پۀ اساس کله چې د کوزې خوا پښتانۀ د ټاکلې جرگې او د تپلي ریفرنډم د نتائجو پۀ رڼا کښې د یوازاد او خودمختار نوي ریاست برخه وگرځول شول اود مُلك پۀ چارو کښې هم د نورو قومونو پۀ څېر د مساوي حقوقو حق دار ومنل شول، نوپۀ دې اساس پښتنوهم

پۀ دې نوي وطن کښې د خپل ژوند د اسبابو او ذرائعو لټون واخیست. مګر له بده مرغه پښتنو ته هغه نظر ور نۀ کړی شو، کوم څۀ چې دوئ تصور کړی وو. که څۀ هم پۀ دې کښې د پښتنو خپله علمي او فکري نیمګړتیا به یو بنیادي محرك وي، ولې دغه خو هم د حیرانۍ خبره ده چې هلته د وسائلو او مواقعو غېر مساوي تقسیم او نظري تفاوت د ښکېلاك ګر د فارورډ پالیسۍ (یا د سارۀ جنګ) هغه وروستنۍ پېښې وې چې دلته پۀ دې ملت باندې تروسه ازموئل کېدلې.

د هند د تقسیم پۀ نیتجه کښې د پښتنو هغه سیمې چې د پاکستان برخه وګرځېدلې، له هغو نه یوه هم دغه د سهیلي پښتونخوا سیمه وه، چې پۀ اِبتدا کښې ( د ۱۹۴۷ء نه تر ۱۹۷۰ء پورې) د چیف کمشنر صوبې پۀ توګه وساتلې شوه، چې بیا وروستو د ۱۹۷۱ء څخه را پۀ دې خوا د بلوچستان اِیالت برخه وګرځول شوه، هم شامله ده.

پۀ اِقتصادي توګه د ۱۹۴۷ء څخه را پۀ دې خوا بیا تر ډېره پورې چون کې دغې سیمې د هېواد د نورو ولایاتو پۀ نسبت زښت ډېر مسائل لرل، ځکه دلته سیاسي، علمي او ادبي هڅو ته هم د مُلك د نورو برخو پۀ شان حالات دومره خاص موافق نۀ وو. خو یو څۀ هڅې که کېدلې هغه بیا نو د دې سیمې د باشعوره او د بااحساسه شخصیاتو همت وو چې ئې پۀ خپل سر پۀ داسې مُشکل حالاتو کښې دې کارو ته ځانونۀ وقف کړي وو.

چون کې د کوئټې ښار پۀ دا سیمه یو ستر او مرکزي ښار دی. چې د سیمې تجارت، اِقتصاد، سیاست ، د روزګاروسائل او ذرائع پۀ کښې پۀ لړ څۀ خواري ترلاسه کېدَلی شي. ځکه نو د دې سیمې اکثر باسواده او باشعوره خلکو د ښار ژوند ترجیح کړی. خوبایډ دا هېره نۀ کړو چې د ښارېۀ اِقتصاد، سیاست، او ادبي مشاغلو کښې چې کوم مُهم مُحرکات یادېدلی شي له هغه څخه یو بنیادي مُحرك د ښار قهوه خانې بلل کېدلی شي. چرته چې به سیاسي بحث مُباحثې، ادبي مشاغل او د اِقتصادي ګټې پلورلو مواقع څۀ قدر زیاتې وې. د ادبي فعالیتونو د پاره دا بیا هغه ذَریعه وه چې د سیمې ډېرو نومتو شخصیاتو به پۀ دغو ځایونو کښې خپل علمي او ادبي فعالیتونو ته اِدامه ورکوله. هم دغه هغه شخصیات وو چې له دغو ځایو څخه ئې د سیمې پۀ علمي او ادبي فضا کښې د ستر بدلون راوستلو سرخېل ثابت شول .

لکه د مثال پۀ ډول: د۱۹۷۰ء څخه را پۀ دې خوا د دې غونډو پۀ اساس ځینې

شخصیات پهٔ دې نتیجه سره و رسېدل، چې ولې نهٔ موږ دې د خپلې ژبې او ادب د ودې او پرمختیا یو داسې مُنظم مېکنېزم ولرو، چې د سیمې تولې ادبي کړۍ پهٔ هغه کښې را و نغښتلې شي. د دوئ د اِخلاص او همت دا هغه نُقطه وه، چې پهٔ ادبي تاریخ کښې د کوئټې پښتو اِکېډمي پهٔ نوم یاده کړل شوه. پهٔ دغه هڅو کښې نومتو شخصیات چې تر ګردو د مخه وو، له هغوڅخه یواروانښاد سُلطان محمدصابرهم وو. ځوك چې د دې تحریك مخکښ او سرګرم کارکن بلل شوی. پهٔ دا لړ کښې پهٔ ۲۳ جون ۱۹۷۱ء کښې د هغوئ تر مشرۍ لاندې یوځو شاعرانو او ادیبانو (د سُلطان محمد صابر پهٔ شمول ټول لس تنه وو) پهٔ کېفې ستېنلې کښې پهٔ دا رائې سره مُتفق شوي وو چې، ولې نه موږ دې خپلې هڅې د یو ادبي مرکز (پښتو اِکېډمۍ) د پاره توندې کړو.(۱) (یعني د پښتو اِکېډمۍ لومړۍ بِنا هم له دغه مجلسو څخه را ټوکېدلې ده.) پرته له سُلطان محمد صابرهغه نهٔ (۹) ادیبان او شاعران چې پهٔ دا نېك مرغه کار کښې ئې له هغهٔ سره ملګرتیا لرله، د هغو نومونهٔ پهٔ دا ډول دي: ښاغلی ولي محمد خان سیال کاکړ، غلام حېدرخان، سلطان محمدپاني زی، عزت الله نیازي، ابوالخېرځلاند، عبدالقدوس دُراني، یوسف منصور، مختاراحمد زاهد او سیّدعابدشاه عابد شامل وو. دغسې د اِکېډمۍ لومړی مشر ډاکټر خدائیداد، جنرل سېکرټري سُلطان محمدصابر، خزانچې سیّدعابدشاه عابد او ځنې نور کسان ئې د مجلسِ عمله دپاره وټاکل شول.(۲) پهٔ ابتداکښې د دې غړي څهٔ لږ وو او پهٔ ممبرسازۍ کښې هم دومره کسان نهٔ وو اخیستل شوي، خو سوکه سوکه بیا کم نه کم غړي پینځویشت او زیات نه زیات تر څلوېښت پورې مقرر کړل شول. (۳) کله چې دغه نومورې شخصیات د اِکېډمۍ پهٔ هکله یوه مُتفقه فیصله ته سره و رسېدل، نو د دې رجسټرډ کولو دپاره ئې پهٔ باقاعده ډول د Registeration of Society Act. Xx 1 of 186 No. تحت حکومتِ بلوچستان ته پهٔ ۸ مارچ، ۱۹۷۲ء کښې درخواست جمع کړلو، چې رسمي منظوري ئې بیاد یو ځو ورځې د کاروائي وروسته پهٔ ۲۰مارچ، ۱۹۷۲ء کښې ورکړل شوه. (۴)

چون کې دا یوه غېرسرکاري او غېر سیاسي اِکېډمۍ ده چې د دې سیمې د شاعرانو او ادیبانو د هڅو پهٔ رڼا کښې رامنځته شوې ده. ځکه تر ډېره ئې د ودانۍ جوړښت او د مطبوعاتو د لړۍ اِرتقائي سفر له کړاؤنو ډك او ستونځمن پاتې شوی.

پۀ اِبتداکښې د دې يو دفتر يا د ناستې ځای پۀ ښار(کوئټه) کښې پۀ توغي سړک (روډ) پۀ يوه بالا خانه کښې د سل روپۍ پۀ کرايه اخيستل شوی وو. چې يو څۀ موده وروسته بياهم پۀ دغه ځای پۀ اکتوبر، ١٩٧١ء کښې د دې اول کالنۍ غونډه او رسمي کار پېل (اِفتتاح) د کوئټې کمشنر محترم نصرُ من الله پۀ لاس وکړل شوه. ښاغلي کمشنر نصرُ من الله ورله پۀ دا موقع ٥٠٠٠ کلدارې د ګرانټ پۀ توګه د منظورۍ اعلان هم وکړلو. بايد دا هم ياد کړو چې پۀ دا موقع له هغۀ سره د پښتنو ملي مبارزاو سياست پوهـ ښاغلی عبدالصمدخان هم شريك وو. (٥)

څۀ موده وروسته دا ګرانټ ٣٠٠٠٠ زره کلدارې د کال ورته و منل شوې. خويو څۀ زمانه بعد کله چې سردار اختر منګل د بلوچستان وزيراعلی شو نو هغۀ دا ګرانټ له دېرش زرو څخه درې لکهـ کلدارو ته د ور پورته کولواعلان وکړلو. خو پۀ دا اوس مهال کښې دپښتو اِکېډمۍ د صدرجناب محترم سيّدعابد شاه عابد پۀ زيار دا ګرانټ د کال دولس لکهـ ته ور زيات شوی دی. دلته د دې خبرې يادونۀ يو ځل بيا ضروري ګڼم چې پۀ اِبتدا کښې اِکېډمۍ پۀ توغي روډ باندې پۀ يوه بالاخانۀکښې پرانستل شوې وه، مګر د خپلو فعاليتونو پۀ بنياد دا بيا د دې جوګه شوله چې پښنين سټاپ ته نژدې پۀ ماډل ټاؤن کښې يوفلېټ ځان ته ملکېت کړي. پس له دې بيا پۀ کال ١٩٩٩ء او ٢٠٠٠ء کښې د کوئټې ښاروالۍ له خواورته پۀ مېکا نګي روډ د مالي باغ پۀ يو کونج کښې يو پلاټ مُختص کړی شو، چرته چې بالاخره پۀ ٢٠٠٦ء کښې، هم پۀ دغه ځای د ځينې مُخير شخصياتو (سياسي او دولتي شخصياتو) پۀ مرسته د اِکېډمۍ خپله يوه مُستقله، پراخه او پۀ جديد وسائلو اراسته ودانۍ د اودرولو دستوره ترسره شوه. خو بايد هېره ئې نۀ کړو چې د اِکېډمۍ د دې ودانۍ پۀ اودرولو کښې کوم چا چې ستر لاس کړی هغه د بلوچستان ايالت د اسمبلۍ ممبره محترمه راحيله دُرانۍ ده، چې ئې د خپل فنډ څخه يوه لويه برخه و دې قومي اثاثې ته ور وقف کړله. ځکه دا اوس مهال کومه ښُکلې او ښائسته ودانۍ چې پۀ دغه مقام ولاړه ښکاري، دا هم دهغوئ (مُحترمه راحيله دُراني) د مرستو برکت دی چې د پښتو ژبې شاعرانو او اديبانو ته ئې د قومي خدمات پۀ لار کښې يو ستر مُشکل ور اسان کړلو. ولې د دې معنٰی دغه هم نۀ ده چې د اِکېډمۍ پۀ دې ستر زيار کښې د اِکېډمۍ د غړو او د نورو خوا خوږو ونډه دې هېره کړل شي. بې شکه چې دا ډاډمن

کار نهٔ د یو لاس کار وو او نهٔ پهٔ یوه ورځ تر سره شوی، بلکې دغه د ډېرو لاسو او د یوې اوږدې مودې د مُبارزې برکت وو چې ئې نن یو رنګه د اِفتخار مقام تر لاسه کړی.

**د اِکېډمۍ علمي او ادبي هڅې**: د ۱۹۷۱ء څخه را پهٔ دې خوا اِکېډمۍ پهٔ هر مهال د دې هڅه کړې ده چې د پښتو ژبې او ادب پهٔ پر مخ تګ کښې د خپل اِستعداد مُطابق خپله ونډه پهٔ کار راولي او سیمه ایز ادبي فعالیتونو ته لار روښانهٔ کړی شي. خوچون کې اِکېډمۍ له اِبتدا څخه پهٔ زښتو ډېرو مُشکلاتو کښې راګېره وه او نهٔ ئې شو کولی چې د پېړیو اَنبار چټك یو مخ پهٔ بره یوسي، ولې بیا هم پهٔ دې دوه ځلوېښت کالنهٔدوره کښې بیا هم پهٔ دې بریالۍ شوې ده چې د لږ شان علمي او ادبي خدماتو سره سره د یوې مستقلې ودانۍ لرلو ستونځه دې هم حل کړی شي. چون کې د اِکېډمۍ پهٔ بنیادي علمي او ادبي هڅو کښې د دې د مطبوعاتو سلسله یوه مُهمه کړۍ ده، چې تر اوسه ئې څهٔ لږ او ډېر څلور ځلوېښت کتابونه (چې څهٔ قدر شل پهٔ کښې د کتاب پهٔ حساب، یو ویشت واړهٔ واړهٔ کتاب ګوټي، درې لیکنځې او دوه ئې سیمنارونهٔ کړي دي ) خپارهٔ کړي دي. خو د مطبوعاتو د لړۍ سپړلو تر مخه یو وضاحت کول ضروري ګڼم، هغه دا چې د اِکېډمۍ له خوا چاپ کړل شوي کتابونو کښې څهٔ داسې دي چې هغه یا خو د اِکېډمۍ سره پهٔ خپله نهٔ دي موجود او یا د اِکېډمۍ رېکارډ له زاړې ودانۍ څخه و دې اوسنۍ ودانۍ ته د را اړولو پهٔ سلسله کښې لهَ ځای سره شورېدلی او لټون ئې یو څهٔ قدر مُشکل شوی. ځکه پهٔ دا مقاله کښې یوائې د هغه کتابونو او کتاب ګوټو پهٔ اړه به معلومات وړاندې کولې شي کوم چې دستیاب دي. بل دا چې د دې مطبوعاتوذکر به د موضوع پهٔ اساس کولې شي نهٔ چې د سنِ اِشاعت پهٔ ترتیب.

د اِکېډمۍ د مطبوعاتو د لړۍ تفصیل څهٔ پهٔ دې ډول دی.

## اوَلسي ادب

**اولسي نکلونه**: لومړۍ چاپ مۍ ۱۹۷۲ء، دویم چاپ جون ۲۰۰۶ء مؤلف ئې ښاغلی سیّد عابدشاه عابد دی اوټول ۱۳۵ مخه لري. چې د اولسي نکلونو یو څهٔ اتهٔ قدر وَړې وَړې قیصۍ پهٔ صفا ، سوچه او خواږه پښتو کښې بیان کړل شوې دي. د دې پهٔ دویم چاپ کښې هم هغه ټول نکلونه را اخیستل شوي کوم چې پهٔ اول چاپ کښې

موجود دي. البته د دويم چاپ د طباعت چارې د لومړي چاپ پهٔ نسبت يو څهٔ قدرمعياري دي. له دې نکلونو څخه يوڅو لکه: ژرند باز باچا، چندڼ لالا، د خُراسان باچا، نېکې او بدي، درې حافظان، تور دېب او ځنې نور دي.

**زموږ ژواک**: ليك د عبدالقدوس دُراني، طبع اول، چاپ مئ ۱۹۷۲ او ۱۱۷ مخه باندې مُشتمل دی. هم دغه کتاب پهٔ دويم ځل پهٔ جون ۲۰۰۶کښې بيا چاپ شوی چې ۹۶ مخه لري. زموږ ژواك له پښتو څخه پهٔ انګريزي هم ژباړل شوی، چې انګرېزي ژباړه ئې ښاغلي فاروق شاه اسماعيل زي کړې ده. د چاپ کال ئې ۱۹۸۹ء او ۶۵ مخه باندې مُشتمل دی.

**پښتون کلچر**: پښتون کلچر د زموږ ژواك کتاب څخه اُردو ترجمه ده چې پهٔ کال ۱۹۸۲ء کښې چاپ شوی چې ۱۰۰ مخه لري او تعارف يا سريزه ورباندې سُلطان محمد صابر ليکلې ده. د دې ژباړه پهٔ خپله قدوس دُراني صاحب کړې ده. موضوعات ئې هم هغه د زموږ ژواك پهٔ مطابق د پښتني ټولنې د غم او خوښۍ پهٔ مواقعو د پښتني دودونو يا د مراسمو ترسره کېدلو پهٔ اړه دي. لکه: د هلکانو د زيږېدو، نشرح، سرکلئ، کوچه، نوم، ختنه او ځينې نورو دودونو تفصيل پهٔ کښې ښودل شوی. پرته له دې پهٔ دې کښې د وادهٔ مراسم او د پښتنو ځنې ټولنيز اقدار ( پښتو او د پښتونوالۍ دودونهٔ) هم ډېر پهٔ ښکلي هنر سره بيان شوي دي. لکه: جرګه، اِنتقام يا بدل، تېره، آر، بول، پېغور، اشر، اسلحه لرل او ځينې نور. هم دغسې پهٔ پښتني ټولنهٔکښې ترسره کېدونکې لُوبې، توهمات، ساز او اواز، مېلې او ځينې تيوهارونو پهٔ هکله هم خوندور معلومات ورکړل شوي دي. غرض دا چې دا ژباړه غېر پښتنو ته د پښتني ثقافت او پښتني اقدارو پهٔ اړه ښکلي اِبتدائي او اړين معلومات ور رسوي. د دې کتاب د ارزښت او اهميت اِعتراف اکېډمۍ پهٔ خپله داسې کړی چې:

> قومی یک جہتی کو فروغ دینے اور ملک کی تمام علاقوں کے لوگوں کو ایک دوسرے کے زیادہ سے زیادہ قریب لانے اور ایک دوسرے کو سمجھنے کے لیے ضروری ہے کہ علاقائی زبانوں کی ادب کو ترجمہ کرکے اردو میں پیش کیا جائے اور مختلف علاقوں کے رسم ورواج اور طرزِ معاشرت کے بارے میں زیادہ سے زیادہ مواد کو اردو میں منتقل کیا جائے. اِس طرح ملک کے مختلف علاقے کے لوگوں کو ایک

دوسرے کی طرزِ معاشرت اور رسم و رواج سے آگاہی ہوگی بلکہ مشترکہ ثقافتی قدروں کی نشاندہی کرنے اور اُنھیں فروغ دینے میں بھی مدد ملے گی۔ (۶)

**د اتڼ نارې**: د دې مؤلف ښاغلی خېرمحمد عارف، په ۲۰۰۵ء کال کښې چاپ شوی او ۲۱۲ مخه لري. د کتاب متن په څلور ابوابو وېشل شوی. د کتاب په ابتدائي صفحاتوباندې د اِکېډمۍ د مشرانو او دمؤلف خپلې خبرې ورکړل شوې دي.

د اولسي ادب په مناسبت که وکتلې شي نو په دې کښې ډېر په زړه پورې، علمي او ادبي مواد راټول کړل شوی، خو پرته له دې په دې کښې بيا د اتڼ د نارو تر څنګ د اولسي ادب د بيله بيلو اصنافو په فن، د هغوئ اهميت او ځينې نورو خصوصياتو هم څېړنې شوې دي. دغسې په وروستۍ برخه کښې دالف با په ترتيب د اتڼ د نارو نمونې ورکړل شوې دي. خوتر دې هر څۀ پورته کوم مُهم شئ چې د يادولو وړ دی هغه د اولسي ادب د بيله بيلواصنافو په هکله شوي علمي،ادبي او تحقيقي بحث دی. څۀ ته چې يوستر ادبي زيار وئيل کېدلی شي.

**کيسې او کيسی**: مؤلف ئې عبدالقدوس دُراني، په ۲۰۰۹ء کال کښې چاپ شوی او ۱۵۷مخه لري. چې ۱۳۹ وړې کښېسې، ټوکې ټکالې، ټکونه او اړونه په کښې بيان کړل شوي دي. په ځينې نورو موضوعاتوکښې ئې د طنز او مزاح او بالخصوص د وَړوکېوهلکانو د پاره د ذهني ازموينې ښۀ ازميښتونۀهم راوړي دي. غرض دا چې دا د هر عُمر خلقو ته د ذهني تفريح يوه ښکلې او په زړۀ پورې موقع په لاس ورکوي.

**فولکلوري جواهر**: مؤلف ئې پروفېسر سيال کاکړ، په ۱۹۷۹ء کال کښې چاپ شوی او ۱۱۶ مخه.باندې مُشتمل يو وړوکې کتابګوټی دی. چې په سر کښې ئې په اولسي ادب کښې د ښځو په ونډه بحث شوی. پس له دې بيا د بدلو جوړښت، نوعيت، اقسام، خصوصيات او په څنې نورو اړخونوخوندور بحثونۀکړل شوي اود موضوع په مناسبت ئې ورته څنې ضروري بدلې هم د نمونې په توګه راوړې دي.

**د متلونو قيصې**: (اول ټوک) ليك دابوالخېر ځلاند ، د طباعت کال ئې اکتوبر ۱۹۷۵ء او ۴۶۰مخه لري. په دې کښې ټول يو سل څوارلس متلونه او د ورکړل شويو متلونو پس منظر ښودل شوی. په دې کښې ځينې بيا هغه متلونه هم شامل دي چې محض د

یو څو توریو پۀ اوښتون داول متل سره سم کښېل شوي دي. ( کوم چې د مذکوره شمار نه علاوه دي). د کتاب سریزه (تقریظ) ئې نومتو ادیب او شاعر اروابناد سعید ګوهرلیکلې ده. د کتاب پۀ اخر کښې د پښتو د سُوچه توریو معناؤو، مفاهیم او توضیحات هم شامل کړل شوي دي، څۀ ته چې د لیکوال یو ښۀ او پۀ زړۀ پورې زیار وئیل کېدلی شي. یعني دا یوه داسې لُغوي هڅه بلل کېدلی شي چې لُغات نویسانو د پاره د لُغات راټولولو او څېړلو پۀ خاطر ډېر څۀ ور اسانه وي.

چون کې متل د اولسي ادب یو داسې صنف دی چې د مشرانو، هوښیارانو او د پوهـ خلقو د ژوند د مشاهداتو او تجرباتو یو رنګه نچوړ پۀ کښې راغونډ کړل شوی وي. ځکه د دې اثر دائمي او پۀ هر زمان ارزښتناك پاتې شوی. د نړۍ کم شمېره ژبې به داسې وي چې د هغوئ پۀ ادبیاتو کښې دې د متل برخه نۀ وي .چون کې متل :

"د الفاظو داسې مجموعه چې دهغې لفظي او لُغوي معنٰی خو چې هرڅۀ وي لیکن د هغې اِستعمال چې پۀ موزون وخت، پۀ مناسبه موقعه او هم پۀ هغه ډول اوشي مَتل دی. پۀ متل کښې نوی، صحیح او حقیقي معنٰی نۀ ورکوي بل کې د اِستعارې او تشبیهه پۀ ډول پۀ کار راوړل کېږي، --- - د متل د لفظونو پۀ تعداد او ترتیب کښې د ترمیم ضرورت نۀ وي ... متل د معنٰی پۀ اِعتبار مکمل وي او و هېڅ لفظي یا عبارتي کومك ته اړتیا نۀ لري." (۷)

ددې کتاب اهمیت پۀ اړه اروابناد سعیدګوهر یو ځای لیکلي چې:

"د پښتو پۀ پراخه لمن کښې پۀ دې موضوع باندې تر اوسه صرف څلور داسې کتابونۀ پراتۀ دي چې تر اِشاعت خو رسېدلي دي، مګر افادیت ئې پۀ دې سبب ډېر کم دی چې پۀ متلونو خو ډك دي، خو نۀ اِنتحاب ورکښې شوی دی او نۀ ئې څۀ پس منظر وړاندې کړی شوی دی،... که څۀ هم لږه موده مخکښې د پېښور پښتو اِکېډمۍ، پۀ متل او د هغۀ پۀ پس منظر باقاعده کارشروع کړئ دی او لږ ډېرې نمونې ئې پۀ میاشتینۍ مجله پښتو کښې هم راغلي دي، ----[خو] د ابوالخېر

ځلاند دا کتاب د متلونو قیصې د موجوده ضرورت مطابق ډېر څۀ او ډېر د قدر او ستاینې وړ دي" (۸).

مګرد کتاب پۀ اخر کښې د توریو کوم وضاحت او معناوې چې ورکړل شوې دي هغه که څۀ هم د لُغاتو پېژندنې پۀ حواله باارزښته زیاردی، خود مُحترم سعید ګوهر له دې خبرې سره اِتفاق نۀ شي کېدی چې:

"بل مُهم اړخ د دې کتاب دا دی چې هغه علاقائي لُغات چې د افغانستان او سرحد[خ. پښتونخوا] خلق پرې خبر نۀ دي،... د هغه معاني ئې هم پۀ اخري صفحاتو کښې ورکړي دي."(۹)

ځکه چې د اولسي ادب پۀ څېر د یوې ژبې توري کله هم پۀ کوم خاص قوم، قبیله، ځای او یا یوه خطه پورې مخصُوص نۀ شي کېدلی. اِلبته دا مُمکنۀده چې یو نیم توری یا کوم یو متل دې ورسره پۀ اِختلاف یا بدل صورت کښې اړول شوی وي. مګر بیا هم دا پۀ کومه خاص علاقه یا دعلاقائي ټولنې ځانګړتیا پورې محدود نۀ وي. بل کې پۀ دې کښې واقع شوی تغیر پۀ اصل کښې پۀ هغه ژبه د نورو ژبو د اثر له کبله وي، نۀ چې بل کوم علت. بل کې دا توري او متلونۀ پۀ ګړده پښتونخوا کښې یو شان ویرېیا اِستعمالېږي اوخلق هم ورباندې پوهېږي.

**د متلونو قیصې**: (دویم ټوک) لیک د ابوالخېر ځلاند، د چاپ کال ئې ۲۰۰۵ء او پۀ ۲۳۱مخه مُشتمل دی. تر۴۱ مخ پورې د لیکوال او د اِکېډمۍ د صدرله خېړنو وروسته یو اهم بحث د متلونو د ارزښت، مُترادف متلونه او پۀ متلونو کښې د متروکو لُغاتو پۀ اړه پۀ زړۀ پورې علمي او معلوماتي خېړنه شوې ده. خو پۀ دې کښې د اول ټوک پۀ تسلسل کښې اتۀ نهوي ۹۸ نور نوي متلونۀاو پۀ ضمیمه کښې ئې نۀ نور متلونۀ هم ور شامل کړي دي.

**سېلاب**: پۀ اُردو ژبه د عین سلام او سېدعابدشاه عابد پۀ شریکه لیکلی کتاب دی چې ټول ۸۱ مخه لري مګر د چاپ سنۀ ئې نۀ ده ورکړل شوې. پۀ دې کښې د پښتو ځنې ټپې پۀ منظوم ډول پۀ اُردو ژبه اړول شوې دي. ددې سرېزه (حرفِ چندتحت ) د

اُردو ژبې نومتو اديب او د بلوچستان پوهتنون لومړی وائس چانسلر پروفېسر سيد مجتبٰی حُسېن ليکلې ده او هغۀ د مترجمينو دغه کار ډېر ګټه ور او پۀ علمي توګه د ستائنې وړ بَللی.

**ګرائمر/ لسانيات:**

**د پښتو ليک دود:** ليکوال ئې ښاغلی عبدالکريم بريالی صاحب دی،پۀ اپرېل ۲۰۰۰ء کښې پۀ مُجلد او ښائسته رنګين کلر کښې چاپ کړل شوی. د شا پر ټائټل پاڼه ئې د ليکوال تصوير، د ليکوال پۀ هکله تعريفي کلمات او د اِکېډمی مونوګرام ورکړل شوی. سريزه ورباندې ارواښاد يوسف منصور ليکلې ده. موضوعات ئې د سر ټائټل پۀ مناسبت د ژبې ابتدا، د ژبې متعلق بيله بيل نظريات، د پښتو ژبې او د پښتو حروفِ تهجي پۀ اړه بحث، د پښتو ګرائمر او د پښتو بيله بيلې لهجې پۀ اړه پۀ زړۀ پورې بحثونه لري. د کتاب متن د موضوعاتو پۀ ځای د ابوابو پۀ لحاظ وېشل شوی. چې ټول ټال نهه د برش ابواب ترې جوړېږي. خو هم دغه ابواب که د موضوعاتو پۀ لحاظ ووېشلې شي نو موضوعات ئې څۀ دا ډول کېدلی شي لکه: ژبه او د ژبې د پيدائش متعلق مختلف نظريات، پښتو ليک دود پۀ ډېر ليکونو کښې، د ميا روښان نه د خټکو تر کورنۍ پورې د پښتو ليك دود، جديد پښتو ليك دود، ژبه او غږ پوهنه، رموز او اوقاف او ځينې نور. پرته له دې ښاغلي بريالي صېب د ژبې او ګرائمر پۀ اړه هم ډېر پۀ زړۀ پورې او اړين معلومات را يو ځای کړي دي . که څۀ هم دا د پښتو ليك دود پۀ هکله هم يو ګټه ور زيار بلل کېدلی شي. خو بايد ياد وساتو چې دا د پښتو ژبې او ګرائمر پۀ اړه کوم حتمي، کره او اخرنی کتاب نۀ دی، ځکه چې د پښتو ګرائمر، د پښتو ليك دود، د پښتو حروفِ تهجي، د پښتو اصوات او د پښتو د بيله بيلو لهجو پۀ اړه د مخه هم نور ډېر څۀ ليکَل شوي دي. بل پۀ دې کتاب کښې ليکوال که څۀ هم تر ډېره حده د پښتو د يو معياري ليك دود راپېژندلوپۀ خاطر ډېره خواري کښلې ده، ولې دا به منو چې د ځينې مخصُوصو حروفو پۀ اِستعمال کښې ترې څۀ قدر تېروتنې شوې دي (لکه د مثال پۀ توګه: ړ ، ښ ، ژ، س ، ځ ) . خو د يو ښۀ زيار پۀ توګه که وکتلې شي نو يقيناً چې دا د ليکوال د زښتو خواريو يو ښۀ پر مخ

تللی کوشش دی. ځکه چې هغوئ د ې د پاره د مخه یو سل یو څلوېښت کتابونه ورته لوستلي او هم ئې ترې اِستفاده کړې ده. البته دکتاب مواد او د لیکوال هڅه که پهٔ ناقدانه نظر سره وکتلې شي نو بې ځایه به نهٔ وي که ووائیو چې دغه کتاب له لیکوال څخه یو ځل بیا دا تقاضه کوي چې د دې مواد، کمپوز چارې، پروف، د حوالو تفصیل او د پښتو د حروفو یو تقابلي جائزه سردوباره را وسپړي.

**جامع القواعد**: لیکوال ئې عبدالکریم بریالی دی. د خپرېدو سنه نهٔ ده ورباندې کښل شوې، خو د سُلطان محمد صابر له خوا د کتاب پهٔ مقدمه کښې یو ځای مارچ، ۱۹۸۲ء نېټه لیکل شوې ده. دصفحاتو شمار ئې ۱۷۶جوړېږي. پهٔ دې کښې دګرائمر پهٔ هکله خوندَور بحث شوی، چې د پښتوګرائمر د زده کړې اوابتدائي درسونو لوست پهٔ باب پهٔ اسانه ژبه ډېر اړین اوپهٔ زړهٔ پورې معلومات بیان کړل شوي دي. مګردغه که د پښتو د ګرائمر د مخه لیکل شویو کتابونو سره پر تله کړل شي، نو پهٔ دې کښې د هغو پهٔ نسبت کوم خاص نوی رنګ، اِضافه او یا اِختلافي صورت نهٔ لیدل کېږي.

**سُوچه پښتو**: لیکوال ئې ډاکټر خدائیداد دی، ۱۳۲مخه لري مګر د اِشاعت نېټه نهٔ ده ور باندې لیکل شوې. د کتاب د موضوع پهٔ مُطابق پهٔ دې کښې د پښتو ژبې د اِملا یا د پښتو د لیك دود طرز اود پښتو ژبې دسُوچه والي پهٔ باب بحث شوی. ورسره ورسره د پښتو د مخصُوص حروفو د پېژندنې، پهٔ پښتو کښې د فارسي او عربي د حروفو او الفاظو دخل، او یا د ځینې نورو ژبو د حروفو او توریو د مماثلت پهٔ اړه بحث هم د دې برخه ده. مګر که پهٔ نقادانه نظر ورته وکتلې شي نو پهٔ دې کښې د پښتو د مخصُوص حروفو پهٔ واضح کولو کښې کوم دلائل چې لیکوال وړاندې کړي، هغه یو څهٔ قدر توجه طلب دي. لکه د مثال پهٔ ډول: د حرف ړ ، ژ، ښ او ش او ځینې نور. خو پهٔ مجموعي توګه دغه کتاب د لیك دود پهٔ اړه تر څهٔ حده یو ښهٔ، ګټه ور او پهٔ زړهٔ پورې زیار بلل کېدلی شي.

**وښیځي**: (یوه جائزه): د عُمر ګل عسکر زیار دی چې پهٔ ۱۹۷۲ء کښې د اِکېډمۍ له خوا چاپ کړل شوی. ۱۱۲ مخه لري او سریزه ئې سُلطان محمدصابر لیکلې ده. پهٔ

دې کښې د وڼېڅي لهجې ساخت، نوعيت، علاقائي حدود، د وڼېڅي لُغات او د وڼېڅيانو د اولسي ادب پۀ هکله ډېر پۀ زړۀ پورې څېړنې پۀ کښې بيان کړل شوې دي. مګر پۀ دې کښې د ژبپوهنې، د ژبو لهجوي تغيرات، د لُغاتوحرکات وسکنات او پۀ ژبه يا پۀ توريو د نورو ژبو او يا د ژبو د الفاظو د اثر پۀ اړه د ښاغلي ليکوال له خوا وړاندې کړل شوي معلومات بشپړ نۀ دي. البته له دې څخه دومره قدر مُشکل ضرور اسان شوی چې د وڼېڅي لهجې پۀ اړه څېړونکېو او پلټونکېو ته ئې ډېر څۀ خوندي کړي دي.

**ترين او ترينو**: د دې ليکوال سيدخېرمحمدعارف دی چې پۀ مارچ ۲۰۱۱ء کښې چاپ کړل شوی. دا ۲۸۶مخه لري او پۀ پينځلس ابوابو وېشل شوی. د لومړي باب نه تر نهم باب پورې د ترين او ترينانو د تاريخ پۀ هکله معلومات پۀ کښې بيان شوي. لسم باب څخه ئې بيا د وڼېڅي يا ترينو لهجې پۀ هکله ډېره پۀ زړۀ پورې څېړنه شروع کړې ده. د وڼېڅي پۀ هکله د دې ترمخه هم يوڅۀ کتابونه، تحقيقي مقالې او څېنې ليکنې شوي دي لکه: پۀ دې هکله يو پۀ زړۀ پورې کار د مارګن سټرن او جوزف الفن بائن او د محترم اُستاد عبدالحئ حبيبي څېړنې يادېدلی شي.

د مارګن سټرن تر لومړۍ څېړنې وروسته دويم وارېۀ ۱۹۶۶ء کال کښې د کابل پوهنتون پۀ تالار کښې پۀ هغه سيمينار کښې کوم چې د افغانستان د لهجو پۀ باره [کښې] جوړ کړل شوی وو، د ترينو لهجه چې دۀ ورته وڼېڅې وئيلي وو د قدامت او انفراديت پۀ باره کښې ذکر کړی وو. پۀ دۀ پسې جوزف الفن بائن پۀ ۱۹۶۷ء کال کښې د ترينو لهجې پۀ اړه پۀ زړۀ پورې څېړنۀ کړې وه. تر دۀ وروسته د عمرګل عسکر وڼېڅي نومې کتاب پۀ مارچ ۱۹۷۲ء کال کښې هم د دې لهجې پۀ باره کښې د خپل وس مطابق څۀ معلومات وړاندې کړو. تر دې وروسته، پۀ هم دغه کال دسمبر ۱۹۷۲ء کښې سيال کاکړ پاړکی منځ ته راغلی ۇ. له دې علاوه پر دغه لهجې باندې څۀ مضامين هم چاپ شوي وو چې يو پۀ کښې د محترم حبيبي صاحب ۇ ---- که زما حافظې دروغ نۀ وئيل نو څۀ نا څۀ ليك مې د سُلطان محمدپاني مرحوم هم يادېږي. دغه رنګه پۀ اولس کې د افضل شوق او عمرګل عسکرهم يو يو مضمون چاپ شوی ۇ. (۱۰)

مګر د پښتو په لهجوي څېړنه کښې دا یوه المیه رامنځته ده چې د هرې سیمې وئیونکې خپله لهجه بنیادي او اصلي ګڼي او دا بل واله ته مُتغیره او ورانه وائي. حال ان که حقیقت کله هم داسې نهٔ دی. دغه تېروتنه د وڼېڅي په باب کښې هم بیا بیا تکرار شوې ده. دغسې ځینې ورله بیا د یوستر اِنفرادي ژبني حیثیت په څېر ورله یو لویٔ تاریخي قدامت وربخښي. مګر حال دا چې وڼېڅي د پښتو یوه شکسته لهجه ده، چې د دې وئیونکې د پښتونخوا له مرکزڅخه د لرې اُوسېدو له کبله اویا د پښتونخوا دپولې په یوه څنډه اوسېدلو له سببه ترې نهٔ خپله مورنۍ ژبه ګډه وډه شوې ده.د وڼېڅي لهجې هغه لُغات چې اکثر محققین ئې ددې دانفرادیت په توګه بیا بیا ذاوتوي، هغه کوم داسې مخصوص مُنفرد توري نهٔ دي چې د پښتوپهٔ نورو لهجو یا د پښتو په ګاونډي ژبو کښې دې څرك نهٔ پیدا کېږي. لکه د مثال په ډول د دې واضح نخښې د پښتو په مشرقي لهجو کښې عام او ویرېا موندل کېدی شي. کېدلی شي چې د وڼېڅي ځینې توري به و ځینو ته په دې مُختلف ښکاري چې هغه مُخفف شوي، تحریف شوي یا له ناپېژنده کومې لهجې څخه مات کړل شوی دي . خو له بده مرغه که ووائیو چې زموږ اکثر محققین د پښتو د بیله بیلو لهجو ادائیګي او د توریو په تغیر پسې څهٔ زیاته خواري کښلو ته کله هم نهٔ دي اماده شوي، کني دا مُشکل به ولې را پېښېدو. له دې څخه بیا دا مسئله راپورته شي چې هغویٔ خپل تحقیق ته یو رنګه انفرادي او یو ناپېژنده نوی زیار ووائي .

د وڼېڅي د خاص توریو په هکله ښاغلي سیّد خېرمحمدعارف کوم اتهٔ سوه توري چې په ځانګړي ډول ذکر کړي دي، هغه د دې لهجې د پېژندنې په مناسبت یقیناً چې یو ګټه ور زیار دی. خو پرته له دې د دغو کوم داسې اِمتیاز نهٔ شته چې ګویا دا چرته کوم بل ځای یا د پښتو په نورو لهجو کښې څرك نهٔ لري. بل کې په دغو کښې به ډېر کم توري داسې وي چې هغه دې د مشرقي لهجو په لُغاتو کښې موجود نهٔ وي. خو دلته د وڼېڅي په هکله به دا ووائیو چې:

په دې کښې هېڅ شك نهٔ شته چې وڼېڅي د پښتو له ډېرو لهجو څخه یوه لهجه ده. البته دا دعویٰ هېڅ له حقیقت سره سمون نهٔ خوري چې دا دپښتو لرغونې بڼه لري او یا دا چې اوسنۍ پښتو(جدید پښتو) له دې څخه راکوچېدلې ده. --- ځکه

چې ددې لهجې تول توري یا زیاتره توري دپښتو پۀ بیله بیلو لهجو کښې نن هم خوندي دي او هغه کوم توري چې پۀ پښتو کښې (د پښتو لهجو کښې) ئې درك نۀ ترلاسه کېږي، هغه ټوله پۀ سندهي، بلوچې، براهوي او یا سرائیکې ژبو(سره ) بلد خلق پۀ اسانئۀ تر لاسه کولی شي. (۱۱)

**شاعري**:

**مُلاعبدالسلام اشېزی**: (یوه جائزه): لیك او څېړنه د مُقدس خان معصوم،دچاپ کال ئې ۱۹۸۷ء او ۱۲۸ مخه لري. مُقدمه وربانديې د پښتو اکېډمۍ کوئټې مشر سیّدعابد شاه عابد لیکلې ده. پۀ دې کښې له ۶ م مخ نه تر ۸۸ م مخ پورې د مُلا عبد السلام اشېزي ژوند، حالات او واقعات، ادبي هلې ځلې، ملي ارزو ګانې ، لیکلي کتابونه او دهغۀ د وطنیت او قومیت جذبې پۀ اړه بحث شوی. بیا د ۸۹ م مخ نه تر ۱۲۸ م مخ پورې د الف با پۀ ترتیب د هغۀ له اشعارو څخه یو څۀ نمونې اخېستل شوې دي.

ښاغلی مُلا عبدُالسلام اشېزی هغه شخصیت دی چې پۀ پښتو کښې درې کتابونه لکه: سوسنِ چمن، طلبِ مذهب چې پۀ بېله بیلو وختونو کښې چاپ شوي دي.

نومتو ادیب او د پښتو اکېډمۍ کوئټې مشر د دۀ د علمیت او پۀ پښتو شعر او ادب کښې د هغۀ د مقام پۀ باب داسې ګویانه شوی:

که خبره د طلبِ مذهب شي نو مُلا عبدالسام د مذهب پۀ هکله د شعر پۀ ژبه هغه ټوله فلسفه بیان کړې ده کومه چې دیو مسلمان پۀ سرّشت او سوچ کښې اغږل شوې ده،... هم دغه ډول که د سوسنِ چمن جائزه واخیستل شي نو د مُلا عبدالسلام اشېزي د سیاسي فکر او د هغۀ د سائنس پوهنې اندازه پۀ ډېره ښه انداز کښې کېدای شي. مُلاعبدالسلام اشېزي چې پۀ پښتو غزل کښې کومه سوچه او بې باکه لهجه اِستعمال کړې ده نو هغه ئې پۀ کلام کښې نوره شېریني پیدا کړې ده. (۱۲)

**Selection from Shaida**: د کاظم خان شیدا مُنتحب اشعارو له پښتو څخه پۀ انگرېزي کښې منظوم ژباړه ده. ژباړونکی ئې ښاغلی ډاکټر نسیم اچکزی دی. چې پۀ ۲۰۰۴ء کښې چاپ شوی او ۲۲۶مخه مُشتمل دی. که څۀ هم کاظم خان شېدا د پښتو پۀ کلاسیك شاعرانو کښې هغه د لوړې درجې شاعر دی چې د خپلو نادره او باکماله فني اشعار لرلو له کبله تر ننه د پښتو پۀ شاعرۍ کښې د دۀ پۀ څېر کوم بل شاعر نۀ دی پیدا شوی، ولې د دۀ المیه دا ده چې د خپلې مُشکل پسندۍ له کبله پۀ پښتو کښې بیا هم ډېر کم پېژندل شوی. ځکه ډېر کم خلق داسې دي چې هغه به د دۀ د شاعرانه فن، حُسنِ اِظهار، د هغۀ د شعر پۀ باریکۍ او د هغۀ د کلام پۀ نقطه سنجي باندې پۀ اسانه سره و پوهېږي. ولې د ښاغلي پروفېسر نسیم اچکزي له دې ژباړې څخه موږ دا نتیجه اخذ کولی شو چې مُحترم پروفېسر له هغه یو څو کسانو څخه دی چې ئې نۀ یواځې پۀ خپله د شېدا د شاعرۍ پۀ باریکېو پسې ځان رسولی، بلکې لا دا چې د خپلې پوهې پۀ اساس ئې د شېدا د فن وړانګې تر پښتونخوا ور اخوا د نړۍ هر گوټ ته د رسولو بندوبست هم کړی. پۀ دا اساس د شېدا د مُنتخباتو پۀ انگرېزي ژبه دغه ژباړه یقیناً چې یو قابلِ قدر او د ستائنې وړ زیار دی. د دې ژباړې فني ارزښت پۀ باب پۀ خپله پروفېسر نسیم اچکزي څۀ دا ډول اِظهار کړی:

> During translation I was feeling that whatever the time, events, stories, diseases and unrecorded episodes in between two verses or two poem of Shaida had ironically been passed, were a part of mystery. The world did not know about them. The Critics were far away from those unregistered realities, which might have worn the mask or dress of a metaphor. That had been preserved in the record room of Past. Those unrecorded reality [realities] in Shaida's life could never be played again. But the readers, students and the disillusioned critics were merely reading his verses only like I was translating them. Each poem in a sense of sequence was a study for me. People think as the sequence of poetry maintained in the book was the real rhythm and concatenation of Shaida's actual life. They are totally wrong. (13)

چون کې پروفېسر نسیم صاحب د انګرېزي لټرېچراُستاد ، د پښتو غښتلی ادیب او یو منلی شاعر هم دی، ځکه د هغهٔ له دې اپروچ څخه پهٔ اسانهٔ اندازه کېدلی شي چې هغهٔ دغه کار ډېر پهٔ ادیبانه اپروچ سره سر ته رسولی. یقیناً چې د ژباړې د هُنر تقاضه هم دا ده چې ژباړن دې پهٔ هغه دواړو ژبو کښې ښهٔ مهارت و لري کوم چې هغه له یوې ژبې نه بله ته اړَوي. نو پهٔ دا اساس ښاغلي نسیم صاحب تر ډېره حده پهٔ پښتو ادبیاتو کښې ځان کره ښودلی.

**مثنوي حنان بارکزي**: د چاپ کال ئې ۱۹۹۲ء او ۱۲۸مخه لري. سریزه ئې نومتو شاعر او ادیب ښاغلي درویش دُراني لیکلې ده تر دې د مخه د مرزا حنان بارکزي دیوان که څهٔ هم پهٔ کابل کښې چاپ شوی دی، خو د پښتو اِکېډمۍ کوئټې له خوا چې دهغهٔ کومه دا مثنوي چاپ شوې ده هغه د کابل چاپ مَثنوي څخه پهٔ څو ډوله ارزښت ناکه او مُستند حیثیت لري. لکه: ښاغلی درویش دُراني چې وائي:

د دهٔ (حنان بارکزي) دیوان د کابل پښتو ټولنې چاپ کړی دی. څهٔ موده وړاندې پښتو اِکېډمۍ بلوچستان ته پر درو کتابونو مشتمله یوه قلمي نُسخه پهٔ لاس ورغلې وه چې د مرزا حنان دیوان، د حمیدبابا دیوان او د مرزاحنان یو بل منظوم کتاب پهٔ کښې شامل وو. دا درې سره کتابونهٔ مرزا حنان بارکرزي پهٔ خپل لاس پهٔ ډېر ښکلي خط د خپل دوست اخوندزاده مُلاسېف الدین کاکړ دپاره لیکلي وو. مُلاسېف الدین کاکړ له ژوب [څخه] کندهار ته تللی وو. نن سبا ئې لمسی چې سعدالدین دل رېش نومېږي له افغانستان نه لورالائي ته را مهاجر شوی دی. دغه نُسخه دښاغلي سعدالدین دلرېش څخه ښاغلي سعیدګوهر رانیولې[اخیستې] وه. کله چې حنان بارکزي د دیوان دا مسوده د کابل پښتو ټولنې له خوا د چاپ شوي دیوان سره وکتله شوه نومعلومه شوه چې پهٔ دې نُسخه کښې سل ته نږدې داسې غزلې شاملې دي چې هغه پهٔ چاپي دیوان کښې نهٔ شته. له دې پرته دغه نُسخه ډېر داسې شعرونه هم لري چې یا خو پهٔ چاپي دیوان کښې له سره شته نه او یا بیا شاعر پهٔ کښې څهٔ نه څهٔ ترمیم کړی دی. (۱۴)

**دېوان مرزاحنان بارکزي**: حواشي او تعليقات د سيدخېرمحمدعارف او نظرثاني ورباندې سعيدګوهر کړې ده. د چاپ کال ئې ۱۹۹۶ء او ۳۴۸مخه لري.د پښتو اکېډمۍ کوئټې له خوا د مرزا حنان بارکزي د دېوان چاپول هر څو که يو ګټه ور او علمي زيار دی خو د دې دېوان له متن سره د ښاغلي سېدخېرمحمدعارف له خوا د مرزاحنان بارکزي ژوند، شخصيت او دهغهٔ د شاعرۍ پهٔ هکله کوم غوره او کره معلومات چې راوړل شوي دي هغه يو ستر، ګټه ور او د قدر وړ علمي زيار بلل کېدلی شي. پهٔ دغه ځېر د اروابناد سعيدګوهر له خوا د محمدمعصوم هوتك پهٔ زيار دمرزاحنان پهٔ مطبوعه ديوان يو پرتليزه جاج، د هغهٔ د قلمي نُسخې پهٔ رڼا کښې وړاندې کول هم يود ستائنې وړ علمي بحث دی. چې نهٔ يوائې د مرزا حنان بارکزي د ژوند او د هغهٔ د شخصيت پهٔ اړه لوستونکېو ته کره معلومات ورکوي، بل کې له دې ځخه يو ډول ته پهٔ نقد تَللي مواد هم پهٔ لاس ورځي. پرته له دې مخ ۳۹ څخه تر ۲۳۹ پورې بيا د الف با پهٔ ترتيب د مرزاحنان بارکزي غزلې ځای کړل شوې دي. له دې وروستو بياد هغهٔ مُتفرقات، مناجات، نعت شريف او پهٔ ځينې نورو موضوعاتو غزلې ورشامل کړل شوې دي. د دېوان پهٔ اخرکښې د سعيدګوهر پهٔ زيار د مرزا حنان د دېوان هغه برخه چې د محمدمعصوم هوتك له خوا چاپ شوی، هم د کره کتنې او ځېړنې پهٔ اساس شامله ده. اروابناد سعيدګوهر د محمد معصوم له خوا د مرزا حنان بارکزي پهٔ چاپ شوي دېوان خپله رائې څهٔ دا ډول ورکړې ده:

د موجوده دېوان تر ټولو لويه ښېګړه دا ده چې پهٔ دې کښې دمرزاحنان پينځه پنځوس نوي غزليات راغلي دي، د هغو اشعارو تعداد خو بېخي ډېر دی چې ور اضافه شوي دي. حذف شوي او تر ميم شوي غزلونهٔ او بيتونه خو بېخي ډېر دي. د کابل چاپ دېوان او د معصوم [هوتك] د چاپ کړي دېوان فرق کم دی خو د دې نُسخې له دواړو سره فرق ډېرزيات دی. مُراد دا چې دپښتو ټولنې او دمعصوم مطبوعه دېوان تر ډېره حده سره يو دي. دا دېوان چې اوس ستاسو مخ ته پروت دی له دواړو څخه ډېر مختلف دی. (۱۵)

اروانښاد سعیدګوهرمخکښې بل ځای دمعصوم هوتك له خوا خپور کړل شوی د مرزا حنان بارکزي دېوان ځینې ګډوډېو او نیمګړتیاو ته څۀ دا ډول اشاره کړې ده:

یوه ضروري نیوکه دا کوم چې ښاغلي هوتك د مرزا حنان بېن المللي ادبي پښتو قصداً پۀ قندهارۍ لهجه بدله کړې ده. و محترم محمد معصوم هوتك ته پۀ ۱۳۶۹ ش کال د مرزا حنان بارکزي د دېوان یوه خطي نُسخه رسېدلې وه چې هغه د پښتو ټولنې کابل له دېوان مطبوعه ۱۳۳۶ش سره مقابله کړي ----- دا ګټه ور زیار دا اِمیتاز هم لري چې دپښتو ټولنې د چاپ دېوان او دخپلې خطي نُسخې ټول کلام (غزلونه، بیتونه او صنفونه) ئې سره یو ځای کړي او د دواړو اِمتیاز ئې هم پۀ ګوته کړی دی البته حوالې ئې کمزورې، فرهنګ ئې محدود او ترتیب ئې د حروفِ هجا مطابق اړولی دی (۱۶)

**د عبدالعلي اخوندزاده دېوان**: پۀ ۱۹۹۲ء کال کښې چاپ شوی چې پۀ ۲۳۳ مخه مُشتمل دی. عبدالعلي اخوندزاده چې د خانوزۍ د سیمې پانیزی کاکړدی. هغه پۀ خپله یوداسې لوړ رُتبه عالم او فاضل شخصیت وو چې ئې پۀ خپله سیمه کښې د علم او ادب رڼا پۀ خپرولوکښې د خپل اِستعداد پۀ مطابق پراخه ونډه ترسره کړې ده. د هغۀ له دې دیني او علمي جذبې څخه ښکاري چې هغۀ نۀ یواځې پۀ خپله علاقه کښې د رُشد او اِصلاح پۀ چارو کښې مخته وو، بل کې د خپلې علاقې ور اخوا ئې هم د خلقودخېرښېګړې کارونه جاري ساتلو تابیا لرله. هغه پۀ یو وخت کښې د بلوچستان د قلات ریاست والي امیر محمد خان له درباره سره هم وابستګي لرلې وه.خو پۀ پښتو ادبي نړۍ کښې د هغوئ شُهرت چې له څۀ سببه زیات ارزښتناك ښودل شوی هغه که یو خوا د هغوئ شاعري بللې شي، نو بل خوا د پښتو ادب د بحث وړ کتاب پټه خزانۀ ده، چې له یوې زمانې د هغۀ سره خوندي وه. پټه خزانه د پښتو ادب هغه لرغونې ذخیره ده چې د پښتو ادب تاریخي قدامت څرك له ۱۳۹ھ څخه را اخلي. دا هغه پټه خزانۀ ده چې وروستو علامه حبیبي له کابل څخه له ځینې توضیحاتو او سمونو پس چاپ کړله. مګر دلته د پښتو اِکېډمۍ د مطبوعاتو د تذکرې پۀ سلسله کښې علامه عبدالعلي اخوندزاده چې پۀ څۀ حواله یادولې شي هغه د هغوئ د اشعارو مجموعه ده چې د پښتو اِکېډمۍ کوئټې له خوا چاپ کړل شوې ده.

د اِکېډمۍ له خوا چاپ شوی د اخوندزاده دېوان تر مخه د هغهٔ د شاعرۍ یو چهاڼ د محترم فضل احمدغازي پهٔ زیار [هم]چاپ شوی وو چې اوس ئې درك ډېر کم پیدا کېږي . (۱۷)

د علامه عبدالعلي اخوندزاده د دېوان زیاتره اشعارد الف با پهٔ ترتیب ورکړل شوي دي ولې د دېوان پهٔ وروستۍ برخه کښې ځینې غزلې بیا پهٔ ګډوډ ترتیب هم ورکړل شوې دي.

**علامه اِقبال ته د پښتنو شاعرانو پېرزوینې**: څېړنه او ټولونه ئې عبدالروف رفیقي کړې ده،پهٔ ۲۰۰۳ء کښې چاپ شوی او ۱۲۸مخه مُشتمل دی. دا یو وړوکې غوندې کتابګوټی دی چې د پښتو د اتهٔ څلوېښت شاعرانو د کلام هغه نمونې پهٔ کښې راغونډ کړل شوې دي، چې هغوئ د علامه محمد اِقبال سره د خپل عقیدت او د هغوئ د عظمت پهٔ خاطر ورته پېروزو کړې دي.

**د عُمر خیام څلوریځې**: عُمرخیام چې د یوسائنس پوهٔ پهٔ توګه ډېر کم پېژندل شوی، مګرد خپلو څلوریزو د شُهرت پهٔ لحاظ ئې نوم تل تر تله هر چېرې پهٔ نړۍ کښې اورېدل شوی. پهٔ دُنیا کښې به داسې کمې ژبې وي چې پهٔ هغو کښې دې د خیام دڅلوریځو ژباړه نهٔ وي شوې. د نړۍ د نورو ژبو پهٔ څېر پهٔ پښتو کښې هم د خیام د څلوریزو یو څو ژباړې شوې دي. چې له هغو نه دا اوس پهٔ نږدې وختونو کښې یوه منظومه ژباړه د نومتو شاعراو ادیب ښاغلي ابوالخېرځلاند له خوا شوې ده. د خیام د څلوریځو دغه ژباړه پهٔ ۱۹۸۴ء کښې د پښتو اِکېډمۍ کوئټې له خوا چاپ شوې ده چې ټول ۳۵۸مخه لري. دکتاب پهٔ اِبتدا کښې د ښاغلي ابوالخېر ځلاند له خوا د زهٔ او خیام تر عنوان لاندې د هغهٔ ( خیام ) د ژوند او اثارو پهٔ باب یوه ښکلې او پهٔ زړهٔ پورې تبصره شوې ده.

پهٔ پښتو ادب کښې دا که یو خوا یوه خوندَوره علمي اِضافه بلل کېدلی شي نو ورسره ورسره له دې څخه د څلوریزو پهٔ فن کښې د ژباړونکښېعلمي مهارت، د فارسي سره بلدتیا ، د هغهٔ شاعرانه اِستعداد بلندګي او پهٔ دواړو ژبو عبور او اِظهار هم ترې څرګندېږي.

**کاظم خان شېدا**: (یوه جائزه) لیکوال ئې فاروق شاه اسماعیل زی دی، د اِشاعت سنهٔ ئې نهٔ ده ورکړل شوې البته ۱۰۳مخه لري. دا یوه مُختصره غونډې کتابچه ده چې د کاظم خان شېدا د ژوند او د هغهٔ د فن پهٔ اړه یوه علمي او ادبي څېړنه پهٔ کښې شوې ده. پرته له دې ښاغلي فاروق شاه اسماعیل زي پهٔ دې کښې دا هڅه هم کړې ده چې د شېدا مُشکل طرز اشعارو تشریح پهٔ خواږه او پَسته پښتو کښې وړاندې کړې شي.

**ګلدسته**: د مُلا قلندر اچکزي د تر لاسه شویو اشعارو یو څهٔ نمونې دي چې ښاغلي عبدالروف رفیقي را غونډې کړې دي. دا یوه وړوکې غونډې شعري مجموعه ده چې ټول ۸۱ مخه لري. ولې د خپرېدو نېټه نهٔ ده ورباندې لیکل شوې. خو د مجموعې پهٔ شروع کښې کومه سریزه چې لیکل شوې ده، هلته ۲۰- ۳۰- ۱۹۹۱ء نېټه ورکړل شوې ده. مګر له دې څخه دا مُراد نهٔ دی چې دا به ئې د چاپېدو کال هم وي، بل کې کېدلی شي چې دا چرته د ۱۹۹۱ء کال نه وروستو چاپ شوې وي. ښاغلي مؤلف (عبدالروف رفیقي ) د مُلا قلندر اچکزي ځینې هغه اشعارچې د مخه نهٔ وو چاپ او یا هغه چې د مخه پهٔ خوارهٔ وارهٔ شکل کښې چاپ شوي وو هم پهٔ دا ګلدسته کښې را یو ځای کړې دي. که څهٔ هم اشعار ئې ډېر لږ او بې ترتیبه دي، خو بیا هم دا د مؤلف یو ډېر پهٔ زړهٔ پورې او د ستائنې وړ کار دی، چې د مُلا قلندردا یو څو ځینې اشعار ئې له ورکېدو څخه را وژغورل اود پښتو ژبې د شعر مینه والو ته ئې د تل د پاره خوندي وساتل.

## دیني، مذهبي، تاریخي او اِخلاقي:

**سفر**: د فاروق شاه اسماعیل زي لیك دی چې پهٔ مارچ ۱۹۷۸ء کښې شائع کړل شوی او ټول ۱۲۸مخه لري. دکتاب موضوعات د کائنات تخلیق او ځینې نور فلسفیانهٔ اِسرار و رموز پهٔ هکله ځینې حقائق او مباحث د قران اوسائنس دأصولوپهٔ تناظر کښې او یا د ځینې فلاسفرانو د افکارو او خیالاتو پهٔ رڼا کښې څېړل شوي .

**خېرُالدوام**: د دې لیکوال صالح محمد تاجك دی. په ۱۹۷۳ء کښې د پښتو اِکېډمۍ کوئټې له خوا چاپ شوی او پوره ۸۰ صفحات لري. چې دیني او مذهبي موضوعات په کښې څېړل شوي دي. مقدمه، تصحیح او حاشیه ورباندې ښاغلي ابوالخېرځلاند لیکلې ده.

**عُلوم القران**: دا یو دیني او مذهبي کتاب دی. مُصنف ئې د لبنان نومتو عالم ډاکټر صبحي صالح دی. پښتو ژباړه ئې سُلطان محمد صابر کړې ده او د اِکېډمۍ له خوا په کال ۱۹۸۱ء کښې چاپ شوی. مُجلد دی او ټول ۳۰۴مخه لري. په دې کښې هم د دیني او فقهي مسائلو په اړه بحث شوی.

**د فتنو سوداګر**: (ماخذ از مثنوي مولانا روم)، د دې لیکوال سُلطان محمد صابردی، په کال ۲۰۰۰ء کښې چاپ شوی او۱۶۸مخه باندې مُشتمل دی. په دې کښې د فتنو سوداګر یعني د شیطان او د شیطاني قوتونو لکه: یهود او د نصارىٰ او د هغو فتنو په خلاف چې هغوئ ئې هر وخت د اِسلام په خلاف کوي، ته د مولانا روم د اشعارو، د قرآن د ایتونو او نبوي احادیثو په رڼا کښې کلك ځوابونه وئیل شوي. ( دا کتاب دمولنٰا روم د مثنوي د یوې قیصې څخه اخذ کړل شوی دی ) د دې کتاب د ارزښت او افادیت په اړه ښاغلي اِقبال حسېن افکار څۀ دا رنګه رائې وړاندې کړې ده:

دا کتاب د عالمِ اِسلام د شاعرانود باچا مولانا جلال الدین رومي رحمت الله علیه دمشهور او معروفَ کتاب مثنوي د یوې قیصې څخه اخیستی دی. (۱۸)

**تاریخ، تحقیق او فلسفه**:

**زموږ غازیان** (جلد اول): د ښاغلي سیّدخېرمحمدعارف زیاردی چې په ۱۵مۍ ۲۰۰۰ء کال کښې چاپ کړل شوی او په ۲۵۵صفحاتو باندې مُشتمل دی. ښاغلي خېر محمد عارف په دې کښې د اتۀ دېرش غازیانو او شهیدانو د ژوند، علاقه، د هغوئ د مجاهدې او د وطن پالنې د جذبې په باب ډېر په زړۀ پورې معلومات

راغونډ کړي دي. هغه غازيان او شهيدان چې پهٔ دې کتاب کښې ئې ذکر راوړل شوی، هغه نهٔ يوائې د خپلې مجاهدې او ملي مبارزې پهٔ اساس د پښتنو ملي اتلان بللې شي بلکې پښتون ملت نن د هغوئ مېړانه او اتلوالي ته ډېر پهٔ درانه او د قدر پهٔ سترګه ګوري. چون کې دلته غرض د هغوئ د مېړانې او مبارزې تفصيل وړاندې کول مقصود نهٔ دی بل کې د دې کتاب پهٔ باب يو لنډه شان پېژندګلوي وړاندې کول دی، خود خپلو ملي اتلانو د مبارزو د احترام پهٔ خاطر که له دوئ څخه د يو څو پهٔ باب يو څهٔ سرسري معلومات وړاندې کړل شي نو هم به بې ځايه نهٔ وي. ( د لازياتو معلوماتو د پاره اصل کتاب موجود دی او مينهٔ وال کولی شي چې پهٔ دا هکله بشپړ معلومات له دې کتاب څخه ولولي ) هغه اتهٔ دېرش غازيان او شهيدان چې پهٔ دې کتاب کښې ذکر کړل شوي دي له هغو نهٔ د يو څو نومونه پهٔ دا ډول دي لکه: غازي ارسلاخان اوتمانخېل، غازي دولت حمزه زی، حاجي فتح خان دُمړ، مشو مرانی، بخت نامه، شېرخان جوګېزی، حاجي صورت خان او ځينې نور دي. خو دلته مقاله د طوالت څخه ژغورولو پهٔ خاطر له دغو غازيانو او شهيدانو څخه د غازي ارسلاخان اوتمانخېل او د غازي دولت حمزه زي د مُجاهدې او مُبارزې احوال پهٔ لنډو ټکو کښې وړاندې کولې شي.

**غازي ارسلا خان اوتمانخيل**: د تحصيل بوري د ژړ کارېز اوسېدونکی وو، له انګرېزانو څخه ئې زښت بد کېدل او کرکه ئې ورڅخه لرله. هغهٔ غوښتل چې د انګرېزانو پهٔ خلاف يو قوت راټول کړي او د هغوئ پهٔ خلاف غزا شروع کړي. مګر حالات ورته موافق نهٔ وو، ځکه د لښکر ارمان ئې پهٔ زړهٔ کښې پاتې شو. چون کې هغهٔ کله هم دا نهٔ غوښتل چې انګرېز د هغهٔ پهٔ وطن خپل ناپاک قدمونهٔکښېږدي، ځکه ئې بالاخره و دې ته ملا وتړله چې :

د زمريو مېړتوب پهٔ لښکر نهٔ وي
مټ ئې هر کله يوائې پهٔ خپل ځان شي(خوشحال خان خټک)

هم دغسې ئې و کړل چې پهٔ يوائې سر د انګرېز پهٔ خلاف مبارزه ته را مخکښې شو. د خدائ پهٔ کړهٔ يوه ورځ د هغهٔ ارزو داسې پوره شو چې يو انګرېز

افیسر کرنل جي ګېسفورډ په وژلو کښې هغه بریالی شو. مګرد دې انګرېز د وژلو په اِقدام هغه (غازي ارسلاخان اوتمانخېل) هم په هغه موقع و نیول شو او بیا یو څه موده وروسته په څوارلسم مارچ ۱۸۹۸ء کښې ورته دمرګ سزا و اورول شوه. کله چې هغه په دار کړی شو نو د هغهٔ د مرګ وروسته د هغهٔ مړی د انګرېزانو له خوا په داغرض وسوځولې شو چې څلی ئې څوك بیا پیدا نهٔ کړی او نهٔ هغه چرته د یو ملي مبارز په توګه ولمانځلې شي. مګر هغه څهٔ چې یو ځل د تاریخ و پاڼو ته ورلوېږي بیا کله هم له تاریخ څخه نهٔ ورکېږي. انګرېزانو که هر څومره د پښتنو د دې قومي اتل څلی وران کړلو مګر تاریخ کله هم هغه فراموش نهٔ کړی شو او هغه تل د پښتنو د مېړانیو په تاریخ کښې ژوندی پاتې شو.

**غازي دولت حمزه زی**: غازي دولت د کالو خان زوی، په قوم حمزه زی، د وهار کلان اوسېدونکی وو، چې په ۱۹۰۰ء کښې ئې یو انګرېز کپتان ډي سي جانسن د وژلو په عمل سخته سزا ورته اورول شوې وه او په کلك بند محکوم کړل شوی وو. تر ډېره د بوري په جېل کښې زنداني وو. د قید په دروان کښې ډېر ناترسه ظلمونه وربادنې کېدل، چې له سببه ئې اخر په اپرېل ۱۹۰۱ء کښې د قید په دوران کښې ژوند له لاسه ورکړلو.

په تاریخي او ادبي توګه دا یو ګټه ور کتاب دی. چې د پښتنو د اتلانو په باب ډېر په زړهٔ پورې او کره معلومات په کښې راغونډ کړل شوي دي. بل دا چې په دې کښې لیکوال چېرې چې ضرورت محسوس کړی ځای په ځای ئې دهغه وخت په مناسبت د سرکاري اسناد او دستاوېزات هم سره له عکسونو ورکړي دي. که څهٔ هم د دې ملي اتلانو په باب د مخه هم ځینې لیکوالو یو څهٔ نیمګړي اثار خپارهٔ کړي دي، ولې په کوم انداز چې ښاغلي خېرمحمدعارف د دغو ملي مبارزینو په باب معلومات راغونډ کړي هغه یقیناً یو قابلِ تحسین او د همت وړ زیار دی.

**پټه خزانهٔ د حقیقت په ائینهٔ کښې** : د ښاغلي عبدالکریم بریالي یو تحقیقي او تنقیدي زیار دی، چې په کال ۲۰۰۳ء کښې د پښتو اِکېډمی له خوا خپور کړل شوی او ۵۴۱ مخه باندې مُشتمل دی. بریالي صاحب په دې کتاب کښې د پټې خزانې په

حواله شویو اعتراضونو پهٔ رد کښې د کره ځواب وئیلو هڅه کړې ده. یعني که دا ووائیو چې دا پهٔ بینادي توګه د قلندر مومند د پټه خزانهٔ في المیزان پهٔ رد کښې لیکل شوی کتاب دی نو هم به بې ځایه نهٔ وي. پهٔ دې کښې ښاغلي بریالي صاحب د قلندر مومند د اعتراضاتو پهٔ رد کښې ډېر پهٔ زړهٔ پورې اوږدهٔ اوږدهٔ بحثونهٔ پېش کړي دي او زیار ئې کړی دی چې د قلندر مومند د دعوې نفي وکړی شي. د پټې خزانې پهٔ حواله د قلندر د اعتراضاتو پهٔ رد کښې د محترم بریالي پرته ځینې نورو لیکوالانو هم خپل تحقیقي اثار را میدان ته کړي دي لکه د مثال پهٔ ډول : د همېش خلیل له خوا لیکل شوی کتاب تول پارسنګ او هم دغسې بیا د دې پهٔ رد کښې یو بل کتاب هذا ما کنزتم او ځینې نورکتابونه، مقالې او مضامین هم لیکل شوي دي.

پټه خزانهٔ څهٔ ده او څهٔ نهٔ ده ؟ چون که دا د دې مقالې موضوع نهٔ ده خو پهٔ مجموعي توګه که وکتلې شي نو د ښاغلي بریالي صاحب دغه زیار د تحقیق او سند پهٔ لحاظ یوښهٔ پهٔ زړهٔ پورې کوشش بلل کېدلی شي. چې ښاغلي بریالي صاحب تر وسه زیار کړی چې اسنادو او اثباتو ته پهٔ یو نه یو حواله ځان و رسوي او هم ئې د هر ځواب د پاره منابع او ذرائع پهٔ نحښه کړې دي. مګر پهٔ ځینې ځایونو کښې دا ګران مُحقق جذباتي شوی، لهجه ئې سخته او تحریر ئې خُشك ښکاره شوی. یا پهٔ بله معنٰی که دا ووائیو چې لیکوال د طرفدارۍ ښکار شوی، چې له کبله ئې پهٔ تحریر باندې د قومیت، علاقائیت او پلویتوب عنصرغالب شوی. خو بیا هم پهٔ مجموعي توګه که وکتلې شي نو دا د پښتو ادب د تنقید او تحقیق پهٔ میدان کښې یو ډېر ګټه وره او پهٔ زړهٔ پورې اِضافه ده.

**شېرشاه سوري**: پهٔ دې کتاب کښې د شېرشاه سوري د ژوند، قومیت، د هغه د دور دحالاتو، واقعاتو او د هغهٔ د واکمنۍ د دورې د کارنامو ذکرراوړل شوی. دا پهٔ پښتو ژبه لیکل شوی یورنګه تاریخي کتاب دی. چې صاحبزاده حمیدالله له خوا لیکل شوی. دا پهٔ ۱۹۷۷ء کښې چاپ شوی او ټول۲۹۶ مخه لري.

**تاریخ الافغان**: د نومتو دیني عالم او د وحدتِ اِسلامي مُبلغ اروابناد سیدجمال الدین افغاني له خوا د افغانستان پهٔ باب یو تاریخي کتاب دی چې پښتو ژباړه

اروابناد محمدیوسف منصور کړې ده، ۱۱۹ صفحات لري او پهٔ ۱۹۷۹ کښې د اِکېډمۍ له خوا چاپ کړل شوی.

**لرغونی بوری (لورالائي)**: تلخيص او ژباړه د فاروق شاه اسماعيل زي، پهٔ ۱۹۷۹ کال کښې چاپ شوی، ۲۹۵ مخه لري چې سريزه ورباندې اروابناد سُلطان محمد صابر ليکلې ده. پهٔ دې کښې د لورالائي کښې د ميشته اقوامو، د دې سيمې علاقې او يو شمېر نور تاريخي څېړنې پهٔ کښې شوې دي.

**ادب، تنقيد او فکر**: د دې کتاب ليکوال ربنواز مائل دی، پهٔ کال ۲۰۰۳ء د پښتو اِکېډمۍ له خوا چاپ شوی چې ۲۰۸ مخه لري. ښاغلي ربنواز مائل پهٔ دې کښې خپل هغه مضامين رايو ځای کړي کوم چې هغهٔ د مخه پهٔ ځينې رسالو، مجلو او يا ورځپاڼو کښې چاپ کړي وو. زياتره مضامين ئې ادبي او تنقيدي دي.

**بلوچستان گزېټير**: (ضلع کوئټه او پشين) دا سرکاري گزېټير دی چې پښتو ژباړه ئې فاروق شاه اسماعيل زي کړې ده.پهٔ اگست ۱۹۹۷ء کښې چاپ شوی او ۲۶۲ صفحاتو مُشتمل دی . د بلوچستان د وو ضلعو(ضلع کوئټه او پشين ) پهٔ هکله د انگرېزانو د زمانې د سرکاري اسنادو او دستاوېزاتو ريکارډ لري، چې د پښتو اِکېډمۍ له خوا د تاريخي ارزښت پهٔ خاطر شروع کړل شوې ده، د سرکاري او دولتي رېکارډ د خپرولو پهٔ سلسله کښې د اِکېډمۍ له خوا لومړنی زيار دی. مگر پس له دې دا سلسله له نوره پر مخ نهٔ ده بېول شوې.

**نيټشې**: (د مشهور فلسفي فرېډرک نيټشې پهٔ سوانح، تصنيفاتو، خيالاتو او نظرياتو باندې بحث او مباحثه)، د دې مؤلف ايم-اې- مگي دی. خو پښتو ژباړه ئې پروفېسر محمود اياز کړې ده. دا پهٔ کال ۲۰۱۰ء کښې چاپ شوی او ټول ۱۴۵ مخه لري. د کتاب داخلي مواد پهٔ څلور فصلونو وېشل شوی چې هر يو فصل ئې د نيټشې د فلسفيانه افکارو پهٔ اړه خوندور بحث لري.

## یون لیک:

**د عربستان سېل**: د صاحبزاده حمیدالله دمکه معظمه او د مدینې منورې د یو سفر روداد دی، چې پهٔ ۲۰۰۵ء کښې د اکېډمی له خوا چاپ شوی او ۱۴۴ مخه لري. څهٔ وخت چې دا نوموړی لیکوال پهٔ ۱۹۷۷ء کښې د حکومتِ پاکستان له خوا سعودي عربستان ته د خدامُ الحُجاج پهٔ سلسله کښې تللی وو نو ئې هلته د حج د فریضې تر څنګ خپله ادبي فریضه هم ترسره کړې ده. یعني هغهٔ د حج د منا سکو ادا کولو سره سره د هغه زمانې د عربستان، د مکې شریفې، مدینې منورې او د عربستان د اولس یو عمومي حال پهٔ دې خپل یون لیک کښې د ثبت کولو کوشش کړی. چې دا د هغهٔ دخپلو تاثراتو او داخلي کېفیاتو یو رنګه بیان هم بلل کېدلی شي. چې ښاغلي لیکوال خپل تاثُرات او داخلي کېفیات هم ورسره بیان کړي دي.

د دې سفرنامې د موادو د ارزښت پهٔ هکله پهٔ خپله لیکوال داسې لیکلي چې:

> [دا یوداسې یون لیک دی ]... چې پهٔ هغه کښې دسفر دپېل بیان هم شته. د هغه ناولده هېواد د رسم او رواج بیان هم. د خلقو مزاج او عادات مې هم څېړنې لاندې نیولي دي. د طرزِ تعمیر، کوروو او ځایونو حال مې هم لیکلی دی. د خپل لوست او ټریننګ حال مې هم څرګند کړی دی. د هغه ځای دخوراك و څښاك، د ترقۍ او پرمخ تګ، د تعمیر و تمدن، د اِدارو او نور حال مې هم لیکلی دی ... یواځې د سترګو حالات مې نهٔ دي لیکلي، خپل تاثرات مې هم لیکلي دي. د هر شي تجزیه مې کړې ده. که چېرې تاریخي خبره راغلې ده، نو هلته مې دهغې سره ورته تاریخي حالات څېړلي او لیکلي دي. (۱۹)

## مُتفرِق

**لیکنځې**: د دې اول ټوك، پهٔ مۍ ۱۹۸۴ء کښې چاپ شوی چې ټول ۳۲۸مخه لري او اروابناد سعیدګوهر ئې د اِدارات وظیفه ترسره کړې ده. د دې د موادو ترتیب یو

رنګه د مجلې په ترتيب خپور کړل شوی چې دبيله بيلو ليکوالو مقالې، مضامين او ځنې نور ادبي اصناف په کښې راغونډ کړل شوي دي. د دې مجله نما کتاب ګوتې د مضامينو، مقالو، تبصرو او د بيله بيلو شاعرانو د غزلونو د نمونو ترتيب څۀ په دا ډول ورکړل شوی لکه: په سر کښې حمد ، نعت او له اداريه وروسته نور موضوعات بيا څۀ په دا ډول دي : تاريخ، تحقيق، د نظم برخه، رحمن بابا، يو ليکوال څو ليکنې، ثقافت، غزل، افسانه، خاکه، رپورتاژ، انټرويو او راغلي ليکونه. خوپۀ دې کښې د يو څو خاص موضوعاتو څخه " شال" د قاضي عبدالحليم اثر مضمون، بيا دښاغلي عبدالکريم بريالي مقاله "د بلوچستان د پښتو ادب زرکليز جاج" او د سپډخېرمحمدعارف "د ښېلګريانو د وادۀ دودونه" د يادېدلی شي.

د ليکنځې ادبي او علمي ارزښت په اړه ښاغلی سعيدګوهر ليکښې:

> زموږ کوشش به په ډېر اِخلاص جاري وي چې د ليکنځې دا سلسله تر دې هم په ښۀ بڼه او په ښۀ معيار تاسو ته وړاندې کول جاري وساتو البته د دې د پاره ضروري او اهمه نکته دا ده چې دکار ليکوال دې را ژوندي شي، نورو ليکوالوته هم د هر څۀ ليکلو ست دی، د هيڅ صنف قيد نۀ شته. البته تخليق[تحقيق، ومضامين] بايد چې معياري وي. (۲۰)

د ليکنځې دويم ټوک، چې نګران او اعزازي مُدير سيّدعابدشاه عابد دی، د چاپ کال ئې ۸۶-۱۹۸۵ء دی او مخه ۶۶ لري. په لومړي سر کښې ئې يو څو مقالې دي او بيا ورپسې نور تخليقات دي (غزلې دي) . هم دغسې د ليکنځې دريم ټوک چې اعزازي مُديريت د سيّدعابدشاه عابد په برخه شوی. د چاپ کال ئې ۸۸-۱۹۸۷ء او ټول ۸۳ مخه لري. په دې کښې په بيله بيلو موضوعاتو اوۀ مقالې او يو څو مضامين شامل کړل شوي دي. کوم چې په علمي، ادبي او تحقيقي سطح د قدر وړ او د ستاينې وړ کار بلل کېدلی شي. د دې په موادو کښې يو څو خاص دا نمونه دي لکه: پښتو ادب د ايوب صابر له خوا ليکل شوی يو مضمون، پښتو ډرامه چې د ښاغلي سعدالله جان برق ليکلې مقاله ده. بيا ورپسې پښتو ناول نګاري چې د عبدالکريم

بریالي له خوا لیکل شوې مقاله ده او د امیرخسرو (پاکستان کې علم و فن کا مظهر) په باب د فضل احمد غازي لیک ډېر ارزښتناك او په ادبي توګه ګټه ور مضامین دي.

**نتیجه**: د کال ۱۹۷۱ء نه را په دې خوا تر دا اوس مهال پورې دکوئټې پښتو اکېډمۍ په ادبي هلو ځلوکه یو زغرد نظر واچولې شي نو له دې څخه په اسانه دا نتیجه را وتلی شي چې پښتو اکېډمۍ د خپل اِرتقائي سفر په دې دوه ځلوېښت کالنه دوره کښې نه یواځې په علمي او ادبي توګه پښتو ژبه او ادب ته ډېر څه ورکړي دي، بل کې د دې سیمې د شاعرانو او ادیبانو د روزنې او را یو ځای کولود پاره ئې هم ډېر ګټه ور اقدامات کړي دي. هم دغسې د پښتو ژبې او ادب ډېر نامي او د پائ لیکوالانواثاراو افکارئې لانور پسې ځلکولود پاره هم عملي ګامونه پورته کړي دي. خو د اکېډمۍ (په معنا د اکېډمۍ د غړو) عمومي کارکردګي او کارګزاري ته وکتلې شي نو دلته بیا یو څهٔ قدر ګوت نیونه ته هم ځای پیدا کېږي. هغه داسې چې په دا دومره لویه موده (دوه ځلوېښت کاله) کښې یواځې څلور ځلوېښت کتابونه (چې هغه هم اکثرد کتاب په صورت او معیار نه دي برابر) چاپول هم د دوئ یوه ستره کمزوري ښکاري کوي. پرته له دې د اکېډمۍ په ځینې نورو اُمورو کښې هم د نظم او نسق فُقدان لیدل کېږي لکه: د مثال په ډول د اکېډمۍ د لائبرېرۍ د پاره هېڅ طریقه نه ده موجود، ځکه ئې کتابونه، رساله او د اکېډمي سره متعلق اړین مواد تراوسه غوټه او نادرکه دي. که څهٔ هم داکېډمۍ دغه موجوده نوې ودانۍ په هر لحاظ په وسائلو سنبهاله ده. د کمپیوټرضروریات ئې هم پوره کړل شوي دي. د کتابونو پراخه ذخیره هم ورسره موجوده ده، ولې اِستفاده ترې نهٔ اخیستل نو بیا ځان ته مسئله ده. تر کومه چې د اکېډمۍ په فعالیتونو کښې د اکېډمۍ د غړیو تعلق دی نو په دې ټولو سرګرمیو کښې هر یو خپل کردار د خپل وس او اِستعداد مطابق په ښه توګه ترسره کړی، خوبایددا خبره دې پټه نهٔ وي چې په وروستو وختو کښې د اکېډمۍ دا نال که چا د زړهٔ په وینو را زرغون کړی نو له هغو نه یو پیاوړی شاعر، ادیب او اُستاد محترم سیدعابدشاه عابد نوم به هم بیا بیا یادېږي. ښاغلی عابد شاه صاحب هغه شخصیت دی چې د خپلو نهٔ ستړي کېدونکېو مبارزو په اساس د اکېډمۍ د

فعالیت پهٔ خاطر هر چا ته د پښتواو پښتونوالۍ پهٔ نوم اودرېدلی او ترې نهٔ ئې د پښتو ژبې دغه بنې د سمسورولو د پاره د کښت او لګښت تقاضه کړې ده.

## ماخذونه


۱:د پښتو اِکېډمۍ کوئټه د رودادونو او ریکارډ رجسټر، ۱۹۷۱

۲: دغه بره

۳: دغه بره

۴: د پښتو اِکېډمۍ کوئټه د اسنادو او خط او کتابت رېکارډ، فائل

۵: دغه بره

۶: جواز، مشموله: پښتون کلچر،از عبدالقدوس دُراني، کوئټه، پښتو اِکېډمي، ۱۹۸۲ء.م ۵

۷: تقریظ، سعیدګوهر، مشموله: د متلونو قیصې، از ابوالخېرځلاند، کوئټه، پښتو اکېډمي، م م ۱۷- ۱۸ .

۸: دغه بره، م م ۲۵- ۲۶

۹: دغه بره، م ۲۷

۱۰: عارف، سید خیر محمد ،مشموله، ترین او ترینو، پښتواِکېډمي،کوئټه، مارچ، ۲۰۱۱ء، م م ۲۱۶- ۲۱۵،

۱۱: دغه بره، م ۴۷.

۱۲:عابد ،سیدعابدشاه، دوه خبرې، مشموله: مُلا عبدالسلام اشېزی (یوه جائزه)، څېړونکی مُقدس خان معصوم، کوئټه، پښتو اِکېډمي، ۱۹۸۷ م ۶.

13. Achakzai, Naseem, the Arrow of an Endless Space, *Selection from SHAIDA*, Pashto Academy, Quetta, 2004

۱۴: درانی،درویش، سریزه، مشموله: مثنوي حنان بارکزی، کوئټه، پښتو اکېډمي، ۱۹۹۲، م م ۴ – ۳

۱۵: ګوهر، سعید ، د محمد معصوم هوتك پۀ زيار د مرزاحنان له مطبوعه دیوان سره د دې قلمي نُسخې کتنه، مشموله : دیوانِ حنان بارکزی، حواشي او تعلیقات: سید خیرمحمدعارف، نظرثاني: سعیدګوهر، کوئټه، پښتو اِکېډمي، ۱۹۹۶، م ۲۶۵

۱۶: دغه بره، م ۲۶۴

۱۷:دُراني،درویش، سرلیك، مشموله: د عبدالعلي اخوندزاده دیوان، کوئټه، پښتواِکېډمي، ۱۹۹۲، م ۶

۱۸: افکار ،اِقبال حسین ، کره کتنه، مشموله: د فتنوسوادګر، از سلطان محمدصابر، کوئټه، پښتو اِکېډمي، ۲۰۰۰، م - ۱۶

۱۹: حمیدالله،صاحبزاده، د عربستان سېل، کوئټه، پښتو اِکېډمي، ۲۰۰۵، م _ ۱۳

۲۰:ګوهر،سعید ، اِداریه، مشموله: لیکنځې ( اول ټوك)،کوئټه، پښتو اِکېډمي، مئ ۱۹۸۴، م م ۱۲- ۱۱.